Law Office Of Spojmie Nasiri
Tel: 925.520.5195 • Fax: 925.369.7222
6200 Stoneridge Mall Road • Ste 300 • Pleasanton, CA 94588
spojmie@nasirilaw.com • www.nasirilaw.com

## https://www.state.gov/afghanistan-family-reunification/

## (د Afghanistan Inquiries، په کابل کې د امریکا سفارت او د USCIS په ویب پاڼو کې کوربه شوی)

**افغانانو لپاره د کورنیو بېرته یو ځای کېدل**

**د متحده ایالتونو حکومت ژمن دی چې د متحده ایالتونو ښاریانو او په متحده ایالتونو کې افغانانو سره د دوي د کورنیو غړیو په بېرته یو ځای کېدلو کې مرسته وکړي کوم چې په افغانستان کې پاتې دي. دغه پاڼه ستاسو د کورنیو سره د بېرته یو ځای کېدلو لپاره ستاسو د مهاجرت مختلف اختیارونه واضح کوي. ستاسو اختیارونه ستاسو د تابعیت، ستاسو د مهاجرت وضعیت، او په متحده ایالتونو ته ستاسو د داخلیدو څرنګوالي پورې اړه لري.**

**ستاسو لومړی ګام د مهاجرت پروسه ده. سریره پر دې، ځینې د کورنیو غړي ښايي له افغانستان څخه په وتلو کې د متحده ایالتونو له حکومت څخه مرستو لپاره وړ وي. که د متحده ایالتونو حکومت ستاسو د کورنۍ غړیو سره له افغانستان څخه په وتلو کې مرسته وکړي، نو هغوي به یوازې په هغه صورت کې متحده ایالتونو ته د ننوتلو وړتیا ولري چې د متحده ایالتونو د مهاجرت چارواکو لخوا تایید کړی شي.**

**که تاسو د متحده ایالتونو یو تبعه یاست:**

**که تاسو  د متحده ایالتونو تبعه یاست، نو ستاسو ښځه/مېړه، ستاسو ماشومان، او ستاسو مور او پلار ښايي متحده ایالتونو ته د سملاسي مهاجرت کولو لپاره وړ وي. د متحده ایالتونو ښاریان هم ښايي د خپلو ورونو او خویندو او ناواده شوي بالغو ماشومانو لپاره غوښتنې تسلیم کړي، څوک چې د ویزې د ترلاسه کولو وروسته مهاجرت کولی شي.**

**د متحده ایالتونو اتباعو لپاره معلومات ومومئ**

**که تاسو یو قانوني دایمي استوګن یاست:**

**که تاسو یو قانوني دایمي استوګن یاست، نو ستاسو ښځه/مېړه او ستاسو نا واده شوي ۲۱ کلنۍ څخه ښکته ماشومان، او نا واده شوي بالغ زامن او لورګانې ښايي متحده ایالتونو ته د مهاجرت کولو لپاره وړ وي.**

**د قانوني دایمي استوګنو لپاره معلومات ومومئ**

**که تاسو د افغان ځانګړي مهاجرت ویزه پروګرام له لارې قانوني دایمي استوګنه ترلاسه کړې وي:**

**که تاسو د افغان ځانګړي مهاجرت ویزه پروګرام (Afghan SIV Program) له لارې قانوني دایمي استوګن یاست، نو ستاسو ښځه/مېړه او ستاسو ناواده شوي ۲۱ کلنۍ څخه ښکته ماشومان ښايي د افغان ځانګړي مهاجرت ویزه پروګرام (Afghan SIV Program) له لارې متحده ایالتونو ته د مهاجرت کولو لپاره وړ وي.**

**د افغان ځانګړي مهاجرت ویزه پروګرام له لارې د قانوني دایمي استوګنو په اړه معلومات ومومئ**

**که تاسو یو کډوال یا پناه غوښتونکي یاست:**

**که تاسو د کډوالۍ یا پناه غوښتونکي حیثیت لرئ، نو ستاسو ښځه/مېړه او ستاسو نا واده شوي ۲۱ کلنۍ نه ښکته ماشومان ښايي متحده ایالتونو ته د مهاجرت کولو لپاره وړ وي.**

**د کډوالو یا پناه غوښتونکو په اړه معلومات ومومئ**

**که تاسو یو پرولي یاست:**

**که تاسو متحده ایالتونو ته په پرول باندې راغلی یاست او اوسمهال یو پرولي یاست یا متحده ایالتونو ته په پرول باندې راغلي وئ او په پایله کې مو لنډمهاله خوندی کړی شوی وضعیت ((Temporary Protected Status (TPS) درکړل شوی وي، نو ستاسو ښځه/مېړه او ستاسو نا واده شوي ۲۱ کلنۍ څخه ښکته ماشومان ښايي متحده ایالتونو ته د کډوالو په توګه ننوتلو لپاره وړ وي.**